# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**2اسد_سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

د مهاجرينو چارو وزارت مرستې د ميدان وردگو ولايت د جلريز ولسوالۍ سېلاب ځپلو کورنيو ته وویشل شوې ------- 1

ميدان وردگو ولايت کې سېلابونو مالي او ځاني زيانونه اړولي---------------------------------------------------------- 2

توزيع مواد خوراکی برای بیش از سه هزار خانواده در ولایت بادغیس آغازشد --------------------------------------- 2

د هېواد په يو شمېر ولايتونو کې له ۱۴ زرو زياتو کورنيو سره مرستې شوي-------------------------------------------- 3

مهاجرت به کارگران رسید؛ «کار هست کارگر نیست« ------------------------------------------------------------ 4

صدور پاسپورت برای نوزادان افغان در ترکیه -------------------------------------------------------------------- 5

وزارت کشور ایران، اقامت و کار پناهجویان افغانستانی در استان کرمانشاه را ممنوع کرد ------------------------------ 6

د ملي دفاع وزير د يونفورم اړوند د وروستي حکم د تطبيق په غونډه کې د ستر درستيز مرستيال کډون وکړ------------ 7

په هرات کې د ۱.۲ ميليونه امريکايي ډالرو په لگښت د زعفرانو د ودې پروژه پيل شوه--------------------------------- 9

ایلون مسک: د ټوېټر لوګو 'مرغۍ' سره د خدای پامانۍ وخت را رسېدلی--------------------------------------------10

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو وزارت مرستي د میدان وردګو ولایت د جلریز ولسوالۍ سېلاب ځپلو کورنیو ته وووېشل شوې

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي د یو پلاوي په مشرۍ د میدان وردګو ولایت د جلریز ولسوالۍ د سېلاب ځپلو سیمو څخه لیدنه وکړه.**

**پلاوي د میدان وردګو ولایت د والي سره یو ځای د هغه سیمو څخه لیدنه وکړه، چې د سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې او د سیمې اوسېدونکو سره د غمشریکۍ د څرګندولو ترڅنګ یې د هغه ولایت د یوشمېر ادارو سره په همغږۍ مصدومینوته د رسېدو په موخه ګډ ټیمونه جوړ کړل او همدارنګه یې د دولتي او یوشمېر همکارو بنسټونو سره په همغږۍ د بېځایه شوو لپاره موقتي کمپ جوړ او د مهاجرینو چارو وزارت مرستې یې په مستحقو کورنیو ووېشلې.**

**د میدان وردګو ولایت په جلریز، چک، سیدآباد، جغتو، دایمیرداد، جلګې ولسوالیو او مرکز شاوخوا سیمو کې د تېرې شپې د راوتلو سېلابونو له امله ۲۵ تنه شهیدان، ۴۰ تنه لادرکه او ګڼ نور ټپیان شوي دي.**

**د ترلاسه شوو معلوماتو له مخې سېلابونو تر ټولو زیات تلفات د ټکانه، تیشه، رویان درې، زیارت درې، جای غني او د جلریز په لالي قلعه کې اړولي دي.**

**په یادو سیمو کې د مرګ ژوبلې سربېره ۳۰ کورونه بشپړخراب شوي، ۸۰ په جزوي توګه ویجاړ شوي او دا احتمال هم شته چې د مرګ ژوبلې شمېر نور هم زیات شي.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د ښاغلي خروټي سره په دې سفر کې د مقام د دفتر رئیس قاري محمد اجمل ویاړ، د داخلي بېځایه شوو د دایمي حل لارو رئیس مولوي شمال خان مصلح، د وزارت حقوقي سلاکارمولوي محمود الحق احدي، د مرستو د همغږۍ ریاست سرپرست رئیس احمد طالب ځدران او د ولایتونو د همغږۍ آمرحاجي مامور ملتیا کوله.

## میدان وردګو ولایت کې سېلابونو مالي او ځاني زیانونه اړولي

د وزارت ویب سایت



په میدان وردګو ولایت کې د تېرې شپې د سېلابونو له امله ۲۵ تنه شهیدان شوي، ۴۰ تنه لادرکه او ګڼ شمېر نور ټپیان شوي دي.

د میدان وردګو ولایت د مهاجرینو چارو د آمر مولوي حسین الله حقاني په خبره دغه سېلاب تېره شپه په ۲ بجو په نرخ، سید آباد، چک، جلریز او چغتو ولسوالیو کې راغلی.

هغه زیاته کړه،چې په دې پېښه کې ۲۵ تنه شهیدان شوي، ۴۰ تنه لادرکه شوي، لسګونو نور ټپیان شوي او کرنیزې ځمکې، ترانسپورتي لارې او لسګونه نقلیه وسایط ویجاړ شوي دي.

حقاني زیاته کړه، چې د میدان وردګو ولایت والي او ددغه ولایت د نور ملکي او نظامي ادارو مسؤلین د موټرو او ماشنریو سره زیانمو شوو سیمو ته تللي، څو تر خاورو او خټو لاندې بند پاتې کسان وژغوري.

د ویلوده، چې تر ټولو ډېره مرګ ژوبله د جلریز ولسوالۍ په ټکانه سیمه کې د واده په مراسمو کې رامنځته شوې ده.

د یو بل خبر له مخې، تېره شپه د پغمان ولسوالۍ په ارغندي سیمې کې د سېلاب له ا مله څلور تنه د درې ښځو او یو نارینه په ګډون مړه شوي دي.

د مهاجرینو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست خبریال ته په مرکه کې ویلي، چې د لازمو مرستو د لېږد او وېش په اړه یې د اوچا له دفتر او یوشمېر نورو همکارو بنسټونو سره هوکړه کړې.

هغه زیاته کړه، د دغه وزارت د پلاوي په مشرۍ به له زیانمو شوو سیمو څخه د لیدنې او د مرستندویه ادارو ترمنځ د همغږۍ د رامنځته کولو په موخه له شته امکاناتو سره دغه ولایت ته ولاړ شي.

## توزیع مواد خوراکی برای بیش از سه هزار خانواده در ولایت بادغیس آغازشد

ویب سایت وزارت




**آمریت امورمهاجرین وعودت کننده گان ولایت بادغیس از آغاز توزیع مواد خوراکی برای 3 هزار و 610 خانواده برگشت کننده به محلات اصلی شان با همکاری سازمان جهانی خوراک به تاریخ 31 سرطان خبرداد.**
**خانواده های مذکور که قبلا درکمپ های مرکز ولایت مستقر بودند، به محلات اصلی شان در ولسوالی های مقر، قادس، آبکمری جوند، دره بوم، سنگ آتش، تگاب عالم و قلعه نو مرکز ولایت بازگشت نموده اند.**
**قرار است برای هر خانواده چهار قلم مواد خوراکی توزیع شود.**
**قابل ذکر است که خانواده های مذکور قبل براین سه بار همچو مساعدت را دریافت نموده بودند.**

## د هېواد په يو شمېر ولايتونو کې له ۱۴ زرو زياتو کورنيو سره مرستې شوې

د وزارت ويب سايت





**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

په تېرې يوې (چنګاښ) مياشت کې ۱۴ زره او ۵۵۶ کورنيو سره په ۱۷ ولايتونو کې د مهاجرينو چارو وزارت د ولايتي رياستونو او آمريتونو له لارې مرستې شوې.
په ولايتونو کې د مهاجرينو چارو وزارت د ولايتي رياستونو او آمريتونو د معلوماتو له مخې په هرات، فارياب، غزني، کاپيسا، تخار، سمنګان، بلخ، سرپل، ننګرهار،پکتيا، پکتيکا، ميدان وردګ، جوزجان، باميان، قندهار، بغلان او بادغيس د تېرو جګړو او طبيعي پېښو له امله بېځايه شوو کورنيو سره د يوشمېر نړيوالو همکارو مرستندويه بنسټونو له لورې د مهاجرينو چارو ادارو د استازو په شتون کې د نغدي پيسو، خوراکي توکو، د لمريزې برېښنا د تختو او د خياطی د وسايلو مرستې شوې.

## مهاجرت به کارگران رسید؛ «کار هست کارگر نیست «

صدای امریکا



وضعیت معیشت کارگران همچنان یکی از معضلات جامعه ایران

**شرایط سخت اقتصادی در کشور و عدم توازن بین میزان درآمد و هزینه باعث برهم خوردن چرخه کار و فعالیت‌های اقتصادی شده است بطوریکه دبیر کانون عالی انجمن‌های صنفی کارگران گفته «کار هست اما کارگر نیست» و عضو کارگری شورای عالی کار از مهاجرت کارگران خبر داده است.**

**دبیر کانون عالی انجمن‌های صنفی کارگران می‌گوید این روزها کارگران به دنبال کار ایده آل از نظر درآمدی هستند و حاضر به فعالیت تحت ضوابط مشخص نیستند برای همین خط تولید کارخانه‌ها نیاز به کارگر دارد ولی پیدا نمی‌شود.**

**به گفته هادی ابوی به دلایلی مانند حقوق کم، نیروی کار «تمایلی به کار کردن ندارد، بارها از سوی کارفرما درخواست نیرو داده‌اند اما نیروی کار قبول نمی‌کند «.**

**ابویی با تاکید بر اینکه «معیشت کارگران باید واقعی دیده شود» گفت» :واقعیت جامعه این است که هزینه سبد معاش کارگر حدود ۱۵ تا ۱۶ میلیون تومان است«.**

**از نگاه این فعال کارگری در چنین شرایطی است که وقتی چنین درآمدی برای یک کارگر در یک شغل دیده نمی‌شود، به صورت اجباری کارگر مجبور است مدام به دنبال شغلی باشد که درآمد بهتری داشته باشد.**

**نماینده کارگران در شورای عالی کار نیز می‌گوید سرکوب مزد باعث شده برخی کارگران مهاجرت کنند. صحبت‌های آیت اسدی نشان دهنده ابعاد گسترده میزان دستمزد پایین در اقتصاد ایران است که به مهاجرت کارگران ختم شده است .**

**اسدی تاکید کرده است که «سرکوب مزد کارگران» باعث شده است، برخی کارگران ماهر از کار جدا شده یا در مشاغل کاذب مشغول شوند و یا عده‌ای از آنها به کشور همسایه مانند عراق، قطر، عمان و یا حتی افغانستان مهاجرت کنند و در حال حاضر کارفرمایان با کمبود نیروی کار ماهر روبه‌رو هستند.**

**عضو کارگری شورای عالی کار همچنین از درخواست نمایندگان کارگری برای برگزاری جلسه شورای عالی کار با موضوع بازنگری در حداقل دستمزد خبر داده است.**

**اسدی در مورد اینکه حداقل دستمزد کارگران امسال چقدر از سبد معیشت را پوشش می‌دهد، گفته است که‌حداقل مزد کارگران در هنگام تصویب حداقل مزد، قادر بود تا یک‌دوم سبد معیشت را تعیین کند، اما اکنون به خاطر تورم و کاهش ارزش پول این رقم به حدود یک‌چهارم کاهش یافته است.**

**تشکل‌های کارگری از ابتدای امسال به میزان افزایش دستمزد اعتراض داشتند که منجر به شکایت علیه دولت در دیوان عدالت اداری شد. این شکایت اما از سوی این دیوان رد شد و قاضی پرونده اعلام کرد که در تعیین دستمزد تمامی اصول قانونی رعایت شده است و اعتراض کارگران مبنای قانونی ندارد .**

**خبرگزاری ایلنا اما در واکنش به این رای نوشت که با وجود آنکه «ماده ۴۱ «قانون کار جمهوری اسلامی «هیچ محدودیتی» برای ترمیم دستمزد در «میانه سال «ندارد، اما مقامات دولتی با انجام آن مخالفت کرده‌اند.**

**به نوشته این خبرگزاری، کارگران در دو سه سال اخیر، «خواستار ترمیم مزد بر اساس تورم در میانه سال شدند»؛ با این حال، این خواسته «هیچ زمان» حتی امسال که افزایش دستمزد به اندازه «نصف تورم رسمی اسفند ماه» مصوب شده، محقق نشده است.**

**صولت مرتضوی، وزیر تعاون، کار و رفاه اجتماعی جمهوری اسلامی، هفدهم خرداد ماه، گفته بود: «ما قول نداده‌ایم در صورتی که تورم افزایش یا کاهش یافت، در مصوبه شورای عالی کار تجدید نظر شود«.**

**علی خدایی، عضو کارگری شورای‌عالی کار با بیان اینکه در جریان «مذاکرات مزدی» مقامات دولتی «وعده شفاهی» دادند در صورتی که تورم مهار نشود، مزد را ترمیم می‌کنیم؛ می‌گوید: نه تنها به این وعده عمل نکردند بلکه، به نامه رسمی سه عضو کارگری شورای‌عالی کار برای برگزاری نشست رسمی نیز «وقعی نگذاشتند» و به جای آن به رسانه‌ها «جوابیه» دادند!**

**دبیرخانه شورای‌عالی کار، متعلق به وزارت تعاون، کار و رفاه اجتماعی دولت ابراهیم رئیسی نیز بیست و چهارم خرداد ماه، در پاسخ تلویحی به نامه رسمیِ اعضای کارگری این شورا برای «ترمیم دستمزد»، با انتشار بیانیه‌ای عمومی، مخالفت خود را با افزایش حداقل دستمزد کارگران مشمول قانون کار، اعلام کرده بود.**

## صدور پاسپورت برای نوزادان افغان در ترکیه

رادیوکلید

**سفارت افغانستان درترکیه، صدور پاسپورت برای نوزادان افغان در آن کشور را آغاز کرده است**



**ضیاء احمد تکل، معاون سخنگوی وزارت امور خارجه در توییتر خود نوشته است که در نتیجه تلاش‌های ریاست قونسلی وزارت امور خارجه، روند چاپ و توزیع پاسپورت برای نوزادان افغان مقیم ترکیه در جنرال قونسلی افغانستان در استانبول آغاز گردید.**

**تکل می‌افزاید که  وزارت امور خارجه تلاش می‌کند تا زمینهٔ دسترسی قانونی به خدمات قونسولی را برای تمام اتباع افغان درکشورهای خارج فراهم کند.**

**شماری زیادی از مهاجرین افغان در ترکیه زندگی می‌کنند که در این اواخر خیلی آنان از سوی دولت آن کشور  اخراج شده‌اند.**

## وزارت کشور ایران، اقامت و کار پناهجویان افغانستانی در استان کرمانشاه را ممنوع کرد

صدای فرانسه

**وزارت کشور/داخله ایران اعلام کرده که پس از این، هیچ مهاجر افغانستانی حق اقامت، اسکان و کار در استان کرمانشاه ایران را ندارد و برای جمع‌آوری و بازداشت آنان در این استان، مهلت ۱۳ روزه داده است. حمزه سلیمانی، مدیرکل امور**

اتباع و مهاجرین خارجی استانداری کرمانشاه تصریح کرده که روند شناسایی اتباع خارجی از ۲۸ تیرماه/سرطان آغاز شده و تا ۱۰ مرداد/اسد ادامه خواهد یافت .




مدرک شناسایی یک شهروند خارجی در ایران

حمزه سلیمانی در گفتگو با خبرگزاری مهر ایران گفته که «براساس دستور وزارت کشور، هرگونه اقامت، اسکان و بکارگیری اتباع افغانستانی در همه نقاط استان کرمانشاه ممنوع اعلام شده است.«

این مقام حکومت ایران هشدار داده که اگر کارفرمایی، این دستور را نادیده بگیرد و اقدام به استخدام مهاجران افغانستانی کند، دچار تخلف شده است.

حمزه سلیمانی همچنین از اداره کار و رفاه اجتماعی، بخشداری، فرمانداری‌ها و دیگر ادارات دولتی خواسته تا آمار پناهجویان افغانستانی شناسایی شده را ارسال کرده و در روند جمع‌آوری و بازداشت آنان همکاری کنند.

این مقام دولتی ایران همچنین شماره‌ای را در اختیار باشندگان کرمانشاه قرار داده تا درصورت شناسایی پناهجویان افغانستانی، به نهادهای مربوطه گزارش دهند.

دلیل ممنوعیت کامل اقامت و کار پناهجویان افغانستانی در استان کرمانشاه، توضیح داده نشده است و مشخص نیز نیست که آیا این برنامه در استان‌های دیگر نیز تطبیق خواهد شد یا خیر.

## د ملي دفاع وزیر د یونفورم اروند د وروستي حکم د تطبیق په غوښته کې د ستر درستیز مرستیال کډون وکړ

د ملي دفاع وزارت ویب پاڼه



د وسله وال پوځ ستر درستیز مرستیال حاجي مالي خان "صدیق" په داسې حال کې چې د ملي دفاع وزارت سرمفتش مفتي لطیف الله "حکیمي" یې هم ملتیا کوله، نن د ملي دفاع وزارت د حمایې او امنیت لوا په قوماندانۍ کې د یونفورم د اغوستلو په اړه د رهبرۍ د وروستي فرمان د تطبیق مراسمو کې په نظامي یونفورم سره ګډون وکړ.

د ستر درستیز مرستیال د اسلامي ملي اردو د نظامي یونیفورم په اغوستلو کې د مجاهدینو د اطاعت او فرمانبرداري قدرداني وکړه او د هر پوځي افسر لپاره یې د اسلامي پوځ د نظامي یونیفورم اغوستل ضروري وګڼل.

دا په داسې حال کې ده چې د ملي دفاع وزارت رهبري د یوه لیکلي فرمان له لارې د اسلامي پوځ د ټولو قطعاتو او جزوتامونو مجاهدینو ته امر کړئ چې په ادارو او د خپلو مسؤلیتونو په ځای کې د نظم د ټینګښت په موخه خپل نظامي یونیفورم واغوندي.

(PS)خبرونه(PS)اقتصادTOP(PS)

## په هرات کې د ۱.۲ میلیونه امریکايي ډالرو په لګښت د زعفرانو د ودې پروژه پیل شوه

با ختر اطلاعاتي آژانس




**په هرات کې د لاس په لاس (Hand by Hand) موسسې له لوري د بزګرانو د زیاتو عایداتو، تولیداتو او صادراتي شرکتونو ته د ښه بازار موندنې او د عضوي او ISO تصدیق شوي زعفرانو د کیفیت د لوړولو په موخه یې د ۱.۲ میلیونه امریکايي ډالرو په لګښت د زعفرانو د ودې پروژه پیل کړې ده.**

**د یادې موسسې مسوول خالد ودان د باختر آژانس له خبریال سره په خبرو کې وویل، چې د دغې پروژې په چوکاټ کې له افغانستان څخه بهر د باکیفیته زعفرانو د صادرولو په برخه کې د تولیدي شرکتونو لپاره د بازارموندنې چارې پیلېږي.**

**ودان زیاته کړه چې د زعفرانو د ودې او تولید پروژه د ۱.۲ میلیونه امریکايي ډالرو په لګښت د ډنمارک له خوا تمویلیږي، چې د پنځو کلونو لپاره به پلې شي.**

**په ورته وخت کې د هرات ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسوولین وایي، چې دوی په بازار کې له ټولو بزګرانو په ځانګړې توګه د زعفرانو له کروندګرو څخه ملاتړ کوي.**

**د دغه ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مشر انجنیر بصیر احمد طیب وایي، چې له افغانستان څخه بهر د زعفرانو د نندارتون او بازار د نشتوالي له امله د دغه سور بوټي بیه راټیټه شوې ده.**

**طیب وویل، چې د هر زراعتي محصول لپاره مارکېټ لومړیتوب لري او د هرات ولایت د زعفرانو د مارکېټ اوسنی حالت د تېر کال په څېر دی، خو که له هېواده بهر بازار موندنه وشي، په بازار کې به د دې بوټي بیه نوره هم لوړه شي.**

**دا څرګندونې په داسې حال کې کېږي چې تېر کال په هرات ولایت کې له ۷ زره ۸۵۰ هکتاره کرنیزې ځمکې څخه شاوخوا ۲۱ ټنه زعفران تولید شوي وو.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## ایلون مسک: د ټویټر لوګو 'مرغۍ' سره د خدای پامانۍ وخت را رسېدلی

بی بی سی پښتو




د عکس سرچينه، Getty Images

**د ټویټر خاوند ایلون مسک وايي، غواړي د دې خواله رسنۍ د مرغۍ لوګو پر ایکس (X) بدله کړي.**

**ښاغلي مسک چې د نړۍ تر ټولو شتمن سړی دی، د خپل کاروبار نوم 'ایکس' ته اړولی دی.**

**هغه ویلي د ټویټر نوم او لوګو باید لا ډېر مخکې بدل شوي وای.**

**د رپوټونو له مخې دغه میلیاردر غواړي د (ایکس) په نوم یو 'سوپر اپ' جوړ کړي چې د چین 'ويچټ' ته به ورته وي.**

**نوموړي یکشنبه پر خپل ټویټر یوه پیغام کې لیکلي "موږ به ژر د ټویټر له برنډ او په کراکر کرار له ټولو مرغیو سره خدای پاماني وکړو."**

**د یادونې وړ ده چې ښاغلی مسک وخت ناوخت داسې څرګندونې هم کوي، چې جدي نه وي یا نه عملي کېږي.**

**هغه وروسته وویل چې د همدې ورځې پای کې به یوه لنډمهاله لوګو انلاین شي.**

**بلخوا د ټویټر اجراییه رییسې لینډا یاکارینو هم لیکلي چې دغه شرکت لپاره تازه برنډ یو نوی په زړه پورې فرصت دی.**

**هغې زیاته کړې "ټویټر ستره اغېزه وښندله او زموږ د اړیکو لار یې بدله کړه. اوس به 'ایکس' لا پسې مخکې ځي او نړیواله څلورلارې به بدلوي."**

**'سوپر اپونه' له تېرو څو کلونو راهیسې اسیا کې د ځینو خلکو د ورځني ژوند مهمه برخه جوړوي.**

**د هند 'پی ټي‌اېم' او د اندونیزیا 'ګو جېک' د دوی ښې بېلګې دي.**

**دغه کاریالونه خپلو کارنو یا کاروونکو ته اجازه ورکوي، چې د یوه مالي سیستم له لارې د خدماتو پیسې ورکړي.**

**وي‌چټ د خواله رسنۍ او پیغام استولو پلټفارم دی، چې د بېلابېلو خدماتو له کبله یې ګڼ شمېر کاروونکي او د سیمې په کچه سترو کاریالونو کې ځای موندلی دی.**

**تېر کال اټکل شوی و چې دغه پلټفارم یوازې په چین کې ۱ اعشاریه ۲۹ میلیارد کارن لري.**

**د مرغۍ لوګو**



د عکس سرچینه، Getty Images

**ټویټر کمپنۍ تر هغې وروسته چې د ۲۰۲۲ کال اکتوبر کې ښاغلي مسک پېرلې، خپل سوداګریز نوم (اېکس) کارپ ته اړولی.**

**خو د ټویټر ویبپاڼه وايي د اسماني مرغۍ لوګو د دې کمپنۍ تر ټولو ډېره پېژندل شوې پانګه ده او همدا لامل دی چې ډېره په پام یې ساتلې ده.**

**ټوېټر تېر اپرېل کې خپله لوګو د لنډمهال لپاره پر 'شیبا اینو' سپي بدله کړې وه.**

**د خواله رسنیو دغه پلټفارم تېره میاشت تر هغې وروسته له پراخو نیوکو او غبرګونونو سره مخ شو، چې ښاغلي مسک وویل، خپلو کارنو ته د پیغامونو لیدو د ورځنۍ کچې محدودیت ټاکي.**

**دا اعلان د دې لامل شو چې د فېسبوک مېټا کمپنۍ لخوا د ټویټر سیالۍ لپاره جوړ شوي کاریال "ترېډز" ته د پیل په پنځو ورځو کې تر ۱۰۰ میلیونو ډېر کسان سر ورښکاره کړي.**

~~خبرنامه~~